بسم الله الرحمن الرحيم

# جریده میزان

د سترې محکمې کاري څرګندويه خپرونه

د تأسيس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

سه شنبه ۲۹ لړم ۱۴۰۳ هـ ش | ۱۷ جمادی الأولی ۱۴۴۶ هـ ق | ۱۹ نومبر ۲۰۲۴ م | مسلسله شمېره (۸۲)

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.
تفسير کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

## په پکتيا ولايت کې پر يو تن قاتل د قصاص الهي حکم تطبيق شو

الله تعالی په خپل مبارک کتاب کې فرمايي:
ژباړه: ستاسو لپاره په قصاص کې ژوند دی، اې د عقل خاوندانو د دې لپاره چې تاسو تقوا حاصله کړئ. (البقرة: ۱۷۹)

دغه راز الله (جل جلاله) د الاسراء سورت په (۳۳)ام آيت کې فرمايلي:
ژباړه: او څوک چې مظلوم وژل شوی وي، د هغه وارث ته موږ د غچ غوښتنې (قصاص) حق ورکړی دی، نو پکار ده چې هغه په وژلو کې له حده تېری ونه کړي، له هغه سره به مرسته وشي.

د چهارشنبې په ورځ د پکتيا ولايت مرکز ګرديز ورزشي سټډيوم کې په يو تن قاتل باندې د الله (جل جلاله) حکم (قصاص) تطبيق شو.

دغه قاتل چې يو کس يې د کلاشينکوف په واسطه په قتل رسولی و، شهرت يې په لاندې ډول دی:

د قاتل نوم محمد اياز (اسد)، د حکيم خان زوی، د محبت خان لمسی، د پکتيا ولايت د ميرزکي ولسوالۍ د «کړکين خولې» سيمې اصلي او د مرکز ګرديز جهاد مېنې سيمې فعلي اوسېدونکی دی، د مقتول حبيب الله (سيف القتال)، د ظريف خان زوی، د دين ګل لمسي د عمدي قتل په پېښه کې نيول شوی و.

ياده موضوع د اسلامي امارت د سترې محکمې اړوند درې ګونو نظامي محاکمو (ابتدائيې، مرافعې او تميز) لخوا په خورا دقيق او مکرر ډول وڅېړل شوه؛ چې په پايله کې پرې د قصاص حکم صادر او تائيد شو، وروسته دغه حکم د اسلامي امارت د زعيم عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ الحديث مولوي هبة الله اخندزاده (حفظه‌الله) حضور ته د تائيد لپاره وړاندې شو.

د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه‌الله) لخوا هم د دغې موضوع په اړه د وروستي احتياط په موخه فوق العاده څېړنه وشوه، د مقتول کورنۍ ته د بخښنې او سولې لپاره وړانديز شوی و، د هغوی له نه منلو او انکار وروسته په قاتل باندې د قصاص شرعي حکم د تطبيق امر ورکړل شو او د دغه حکم د تطبيق لپاره د هېواد سترې محکمې ته هدايت وشو، چې دغه د قصاص حکم د چهارشنبې په ورځ (د ۱۴۴۶هجري قمري کال د جمادی الأولی مياشتې په ۱۱مه) نېټه د پکتيا ولايت د مرکز ګرديز په ورزشي لوبغالي کې د هېوادوالو په يوه مجموعه کې تطبيق کړي.

د قصاص د ترسره کېدو په موخه د هېواد د قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب په هدايت د سترې محکمې نظامي مرستيال محترم شيخ خيرجان (خيرخواه) صاحب د يوه پلاوي په ملتيا لېږل شوی و.

په دې غونډه کې د کورنيو چارو وزير محترم الحاج خليفه سراج الدين حقاني، د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزير محترم الحاج خليل الرحمن (حقاني)، د پکتيا ولايت د مرافعه محکمې رئيس الحاج مفتي عبيدالله (خالد)، د پکتيا زون د نظامي محکمې رئيس الحاج شيخ عبدالهادي (همت)، د مرافعه محکمې مرستيال مولوي واحدالله (صديقي)، د ښاري ابتدائيه محکمې رئيس مولوي محمد رحيم (نعماني)، د پکتيا ولايت والي محترم مولوي مهرالله (حماد)، د نورو امارتي ادارو ګڼ شمېر مسؤولينو او په زيات شمېر عامو هېوادوالو ګډون کړی و.

د غونډې په پای کې په هېواد کې د سرتاسري امنيت د لا ټينګښت، د خلکو شرعي حقونو ته د لا رسېدو او د اسلامي شريعت د لا ښه تطبيق لپاره دعاء وشوه؛ غونډه د قاتل په وژنه او په دې اړوند د الله تعالی د ستر حکم قصاص په تطبيق پای ته ورسېده.

## د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې اداري مرستيال د ايران اسلامي جمهوريت له راغلي پلاوي سره وکتل

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې اداري معاون محترم شيخ عبدالمالک (حقاني)، د سترې محکمې د مرکزي تميز عالي رياست رئيس محترم شيخ محمد شريف (حقاني)، د سترې محکمې د عالي مقام دفتر عمومي رئيس محترم مولوي عبدالوکيل (حقاني)، د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رئيس محترم مفتي عبدالرشيد (سعيد)، د سترې محکمې د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رئيس محترم مولوي عبدالرحيم (راشد)، د پنجشنبې په ورځ (۱۲ /جمادی الأولی /۱۴۴۶هـ ق نېټه) د ايران اسلامي جمهوريت څخه راغلي لوړ رتبه پلاوي سره د سترې محکمې د عالي مقام د ناستو په تالار کې وکتل.

په دې ناسته کې د دواړو هېوادونو استازو په قضائي برخه کې د افغانستان اسلامي امارت او ايران اسلامي جمهوريت ترمنځ پر دوستانه اړيکو او افغان زندانيانو د لېږد په تړاو هر اړخيزې خبرې وشوې.

د سترې محکمې اداري معاون محترم شيخ عبدالمالک (حقاني) وويل، ايران او افغانستان دواړه هغه ګاونډي هېوادونه دي چې ګډ مشترکات لري او تل يې له يو بل سره دوستانه او پر متقابل احترام برابرې اړيکې درلودلې دي.

محترم شيخ صاحب زياته کړه، موږ له ټولو ګاونډيو هېوادونو په ځانګړې توګه ايران سره د ښو اړيکو غوښتونکي يو، د ايران له اسلامي جمهوريت څخه مو هيله ده چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د ګډو مسايلو لکه افغان زندانيانو د لېږد او دې ته ورته نورو مواردو په تړاو د تېر په څېر په بشپړ صداقت، ايمانداری او اخلاص کار وکړي.

دغه راز د سترې محکمې اداري معاون صاحب وويل، افغانستان په تېرو څه باندې ۴۰ کلونو کې د کفري هېوادونو د يرغل له امله له سختو مشکلاتو سره مخ شوی، په دې موده کې ډېر شمېر افغانانو د ايران اسلامي جمهوريت په ګډون ګاونډيو هېوادونو ته مهاجرت کړی دی، طبيعي ده چې له دوی څخه به هلته ځينې جرايم ترسره کېږي؛ خو له تاسو مو هيله داده چې د اسلامي اخوت له مخې ورسره نرم چلند وکړئ.

په دې سربېره د سترې محکمې د مرکزي تميز عالي رياست رئيس محترم شيخ محمد شريف (حقاني) صاحب خبرې وکړې وويل، مسلمانان په اصل کې واحد ملت دی او مسلمان که هر اسلامي هېواد کې وي بايد حقوق يې خوندي وي، د جرم صادرېدو په صورت کې بايد د اسلامي شريعت مطابق چلند ورسره وشي.

محترم شيخ محمد شريف (حقاني) صاحب زياته کړه، د اسلام مبارک دين امر کړی چې له مسلمانو سره سختي مه کوئ؛ بلکې نرمي ورسره وکړئ، بناءً موږ له تاسو هيله لرو چې خپل هېواد کې له افغان کډوالو او زندانيانو سره د اسلامي شريعت د حکم مطابق نرم چلند وکړئ.

ورپسې د ايران اسلامي جمهوريت د راغلي پلاوي مشر، د بشري حقونو مرستيال او د محکومينو د انتقال کمېټې رئيس محترم عسکر (جلاليان) د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې له مسؤولينو مننه وکړه چې دوی ته يې د ليدنې وخت ورکړ وويل، ايران او افغانستان هغه اسلامي هېوادونه دي چې د تاريخ په اوږدو کې يې ښې اړيکې پاللې دي، موږ د تل په څېر له افغانستان سره ښو اړيکو لرلو ته ژمن يو.

دغه راز نوموړي زياته کړه، ايران هڅه کوي چې له افغان کډوالو په ځانګړې توګه افغان زندانيانو سره نرم چلند وکړي، د افغان زندانيانو د انتقال برخه کې د لازمو اسانتياوو رامنځته کولو په اړه به د دواړو هېوادونو مسؤولين خبرې وکړي.

ناسته د دعا په ويلو پای ته ورسېده.

**په نبوي دوره کې د ځينو قاضيانو يادونه:**

**۵- عتاب بن اسيد رضي الله عنه**

**دريمه برخه**

انس (رضي‌الله عنه) وايي، چې رسول الله (صلی‌الله عليه وسلم) عتاب بن اسيد د مکې مسؤول وټاکلو، هغه ډېر شکمن سړی و او پر مؤمنانو زيات نرم و، خپله يې ويل: د الله په ذات قسم چې ماته داسې څوک نه دی معلوم چې په جماعت سره له لمانځه څخه ګرځېدونکی وي، مګر زه به يې غاړه ( په توره) ووهم؛ ځکه د جماعت لمانځه څخه يوازې منافق شاته کېږي.

يو وخت د مکې خلکو رسول الله (صلی‌الله عليه وسلم) ته وويل چې تا پر موږ يو وچ کلک صحرايي مسؤول ټاکلی دی.

رسول الله (صلی‌الله عليه وسلم) ورته وويل: لکه څنګه چې خوب والا يې ويني، نو ما هم وليدل چې دی (عتاب) د جنت دروازې ته راغلی، بيا يې د دروازې ځنځير راواخيست او دروازه يې پرې وټکوه، ترڅو چې دروازه ورته خلاصه او دی داخل شو.

اخذليک: تتمة النظام، ۴۸ صفحه، تألیف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## حکم جزای تعزیری بالای (۲۲) مجرم و متهم در ولایت جوزجان تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محاکم ولایت جوزجان بالای (۹) تن به جرم فروش شراب و همچنان به شمول چهار زن بالای (۱۳) تن که متهم بر زنا و سرقت بودند؛ به تاریخ ۳/ ۵/ ۱۴۴۶ هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق گردید.

محاکم ولایت جوزجان مجرمین و متهمین مذکور را به ۲۵ الی ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که این فیصله ها بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق گردید.

جزای تعزیری با حضورداشت محترم مولوی عبدالغنی (سعید) رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ، قاری گل حیدر (شفق) والی ولایت جوزجان، شیخ خیرالله رئیس شورای علماء، مولوی عبدالولی (عتقانی) قوماندان امنیه، حاجی هارون رئیس استخبارات، مولوی خیر محمد (خیرخواه) رئیس محکمهٔ شهری، مولوی اسدالله (حمزه) رئیس انکشاف دهات و مردم عام بالای مجرمین و متهمین در محضر عام تطبیق گردید.

این جلسه با تلاوت چند آیات از کلام الله مجید آغاز گردید؛ سپس والی ولایت جوزجان در رابطه به فواید تطبیق تعزیزات و زیان خواهشات نفسی صحبت نمود.

در ادامه رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ در رابطه به فواید حدود و تطبیق تعزیرات صحبت های عالمانه و مفصل خویش را ارائیه نمود.

جلسه بعد از تطبیق تعزیرات به دعا خیر خاتمه یافت.

## د کابل ښاري ابتدائیه محکمې څلورم زون لخوا دوو متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د کابل ولایت د مرافعه محکمې اړوند ښاري ابتدائیه محکمې څلورم زون د جزا دېوان د پرېکړې لـه مخې د یوې ښځې په ګډون دووکسانو تـه چې پر زنا متهم وو؛ په ۲/ ۵/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه.

د جزا دېوان یاد متهمین په یو ـ یو کال او شپږ ـ شپږ میاشتې تنفیذي بند او ۳۹ ـ ۳۹ دُرو تعزیري سزا محکوم کړي وو؛ چې یاده پرېکړه د سترې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته پر متهمینو تطبیق شوه.

## حکم جزای تعزیری بالای دو متهم در ولایت پروان تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیه ولسوالی بگرام ولایت پروان به شمول یک زن بالای دو تن که متهم بر زنا بودند؛ به تاریخ ۳/ ۵/ ۱۴۴۶ هـ ق در صحن محکمهٔ مذکور حکم جزای تطبیق شد.

محکمهٔ ابتدائیه متهمین مذکور را به سه ـ سه سال حبس تنفیذی و ۳۹ ـ ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بود.

در گردهمایی که به همین منظور دایر گردیده بود، محترم مولوی میرآقا مشهور به (ذبیح الله خالد) رئیس محکمهٔ مرافعهٔ ولایت پروان، مفتی عبدالولی (حلیم) رئیس دیوان جزا مرافعه، اراکین ملکی و نظامی ولسوالی مذکور، علماء و مردم عام حضور داشتند.

## په غزني ولایت کې شپږو مجرمینو او متهمینو ته تعزیري سزاګانې ورکړل شوې

د غزني ولایت د مقر او قره باغ ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو او ښاري ابتدائیه محکمې د جزا دېوان د پرېکړو لـه مخې د جمادي الأولی میاشتې په ۸مه او ۹مه نېټه دوو مجرمینو تـه د نامشروع اړیکو په جرم، دریو متهمینو تـه د لواطت په تور او یو مجرم تـه د اخلاقي فساد په جرم تعزیري سزاګانې ورکړل شوې.

د یادوکسانو لـه ډلې د مقر ولسوالی ابتدائیه محکمې یو مجرم پر یوه کال تنفیذي بند او ۳۹ دُرو تعزیري سزا او قره باغ ولسوالی ابتدائیه محکمې یو مجرم پر ۲۹ ورځو مجرمه پر پنځه کاله تنفیذي بند او ۳۹ دُرو تعزیري سزا، د ښاري ابتدائیه محکمې د جزا دېوان درې متهمین پر دوه ـ دوه کاله تنفیذي بند او ۳۰ ـ ۳۰ دُرو تعزیري سزا او د تنفیذي بند او ۳۰ دُرو تعزیري سزا محکوم کړی و.

د تعزیري سزاګانو یاد حکمونه د سترې محکمې د عالي مقام لـه تائید وروسته پر مجرمینو او متهمینو تطبیق شول.

## په پکتیکا ولایت کې دوو متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د پکتیکا ولایت د خوشامند ولسوالی د ابتدائیه محکمې د پرېکړې لـه مخې دووکسانو تـه چې پر لواطت متهم وو؛ په ۲/ ۵/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه.

ابتدائیه محکمې یاد متهمین پر یو ـ یو کال او اتـه ـ اتـه میاشتې تنفیذي بند او ۳۶ ـ ۳۶ دُرو تعزیري سزا محکوم کړي وو؛ چې یاده پرېکړه د سترې محکمې د عالي مقام لـه تائید وروسته پر متهمینو تطبیق شوه.

## د سترې محکمې د حقوقو عمومي رئیس دایکندي ولایت ته سفر وکړ

د سترې محکمې د حقوقو عمومي رئیس محترم الحاج مفتي محمد ابراهیم جان (ابوالحفاظ) د یوه پلاوي په مشرۍ د روان ۱۴۴۶هـ ق کال د ربیع الثاني میاشتې په ۲۸مه نېټه د حقوقو عمومي ریاست اړوند ادارو د چارو د ارزونې او اړوند مسؤولینو سره د لیدنې په موخه دایکندي ولایت تـه سفر وکړ.

د حقوقو عمومي رئیس د دغه سفر په جریان کې لومړی د چارو د چټکتیا او ښه والي په موخه د دایکندي ولایت د مرافعه محکمې لـه محترم رئیس سره لیدنه وکړه.

ورپسې د یاد پلاوي لخوا د دایکندي ولایت د حقوقو آمر، د ولسوالیو د حقوقو مدیرانو او مسلکي غړو تـه د چارو د سمون او ښه والي په موخه سیمینار ورکړل شو.

د حقوقو د عمومي رئیس یاد درې ورځنی سفر د روان ۱۴۴۶هـ ق کال د جمادي الأولی میاشتې په لومړۍ نېټه پای تـه ورسېد.

## محترم شیخ عبدالغفار رحمانی به حیث رئیس جدید محکمهٔ ابتدائیه نظامی زون بلخ معرفی شد

محترم شیخ عبدالغفار (رحمانی) که به اساس حکم عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) به حیث رئیس محکمهٔ ابتدائیه نظامی زون بلخ مقرر شده بود؛ روز چهارشنبه مؤرخ ۴/ ۵/ ۱۴۴۶ هـ ق توسط محترم شیخ فریدالدین (حقانی) رئیس دیوان جزا محکمهٔ مرافعهٔ ولایت بلخ طی جلسه به منسوبین و کارمندان اداری محکمهٔ مذکور معرفی گردید.

این جلسه با تلاوت چند آیات از کلام الله مجید آغاز شد؛ بعداً محترم شیخ فریدالدین (حقانی) از کارکرد شیخ عبدالوارث (حقانی) رئیس قبلی محکمهٔ متذکره قدردانی نمود، تقرر محترم رحمانی را به حیث رئیس محکمهٔ نظامی زون بلخ تبریک گفت و برای موصوف در اجرا وظیفه محوله مطابق احکام شریعت محمدی (صلی الله علیه وسلم) و اصول امارت اسلامی از خداوند (جل جلاله) موفقیت مزید استدعا نمود.

در ادامه این جلسه الحاج مولوی نورالهادی (ابو ادریس) معاون مقام ولایت بلخ و محترم عزیز الله (سعیدی) رئیس عدلیه ولایت بلخ با نوبه خود صحبت نموده ضمن خوش آمدید تقرر محترم رحمانی را به حیث رئیس محکمهٔ نظامی زون بلخ تبریک گفته، تقرر و تبدل را در نظام امارت اسلامی یک اصل دانسته فرمودند، که اطاعت از اوامر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) به همه مومن مسلمان افغانستان واجب است.

در اخیر این جلسه رئیس جدید محکمهٔ نظامی زون بلخ از فعالیت و کار شیخ عبدالوارث حقانی که وظیفه محوله را در پرتو احکام شریعت و فرامین امارت اسلامی با کمال صداقت انجام داده بود؛ تشکری نمود.

این جلسهٔ با دعاء خیر توسط رئیس عدلیه ولایت بلخ خاتمه یافت.

## د فاریاب ولایت د حقوقو آمریت په یوه میاشت کې (۶۲۷) دوسیو او عرض‌پاڼو ته رسېدنه کړې ده

د سترې محکمې د حقوقو عمومي ریاست اړوند د فاریاب ولایت د حقوقو آمریت په یوه میاشت کې لـه (۱/ ۴/ ۱۴۴۶هـ ق څخه تر ۳۰/ ۴/ ۱۴۴۶هـ ق) نېټې پورې (۶۲۷) دوسیو او عرض‌پاڼو ته رسېدنه کړې ده؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**د عرض‌پاڼو په برخه کې:**

د فاریاب ولایت د حقوقو آمریت په یوه میاشت کې د مدني، فامیلي او سوداګریزو دعواوو په برخه کې (۵۹۸) عرض‌پاڼو تـه رسېدنه کړې ده.

لـه دې جملې څخه (۱۴۶) عرض‌پاڼې د مصالحې له لارې حل او فصل شوې، (۲۱۶) عرض‌پاڼې محاکمو تـه لېږل شوې، (۷) عرض‌پاڼې نورو ادارو تـه راجع شوې، (۲۲۹) عرض‌پاڼې حفظ شوې او پاتې عرض‌پاڼې تر اجراآتو لاندې دي.

**د دوسیو په برخه کې:**

د فاریاب ولایت د حقوقو آمریت په یوه میاشت کې د مدني، فامیلي او سوداګریزو دعواوو په برخه کې (۲۹) دوسیو تـه رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه (۲۴) دوسیې تطبیق شوې، (۱) دوسیه محاکمو تـه لېږل شوې، (۳) دوسیې نورو ادارو تـه راجع شوې، (۱) دوسیه حفظ شوې او پاتې دوسیې تر اجراآتو لاندې دي.

## په میدان وردګ ولایت سیدآباد ولسوالۍ کې یوه متهم ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د میدان وردګ ولایت د سیدآباد ولسوالی د ابتدائیه محکمې د پرېکړې لـه مخې دوشنبه (۲ /۵ / ۱۴۴۶هـ ق) نېټه یو کس تـه چې پر لواطت متهم و، په عام محضر کې تعزیري سزا ورکړل شوه.

پر یاد متهم د تعزیري سزا د تطبیق په موخه جوړه شوې غونډه کې د میدان وردګ ولایت د مرافعه محکمې رئیس محترم مولوي عبدالله (فرقاني)، د سیدآباد ولسوالی د ابتدائیه محکمې رئیس مولوي میرحسن (افتخار) او قضائي غړو، د سیدآباد ولسوال ملا عبدالغني اخندزاده، د یو شمېر نورو امارتي ادارو مسؤولینو او عامو هېوادوالو ګډون درلود.

غونډه د قرآنکریم د مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ د ناستې ګډونوالو تـه د علماء کرامو تر ویناوو وروسته متهم ورپسې د سیدآباد ولسوالی ابتدائیه محکمې رئیس مولوي میرحسن (افتخار)، د سیدآباد ولسوال ملا عبدالغني اخندزاده او نورو علماء کرامو د اسلامي نظام، د تعزیري سزاګانو د تطبیق د ګټو، انساني خواهشاتو د زیانونو او د نبوي سنتو مطابق د ژوند تېرولو په اړه خبرې وکړې.

د یادونې وړ ده چې یاد متهم د سیدآباد ولسوالی د ابتدائیه محکمې لخوا په دوه کاله تنفیذي بند او ۳۹ دُرو تعزیري سزا محکوم شوی و او د تعزیري سزا دغه حکم د سترې محکمې د عالي مقام لـه تائید وروسته پر متهم تطبیق شو.

## د خوست ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۴۰۲) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره (۱۳۱) وثیقې اجراکړې دي

د خوست ولایت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې، اختصاصي محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې له (۱/۴/۱۴۴۶هـ ق څخه تر ۳۰/۴/۱۴۴۶هـ ق) نېټې پورې (۴۰۲) دوسیو ته رسېدنه کړې او (۱۳۱) وثیقې یې هم اجراکړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په حقوقي برخه کې د (۱۲۴) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۷۵) دوسیې فیصله شوې، (۱۷) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په جزائي برخه کې د (۳۱) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۳۶) دوسیې فیصله شوې، (۱۹) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د خوست ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۱۳۱) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## دکابل د نشه یي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې په دوو اونیو کې (۲۳۴) دوسیو ته رسېدنه کړې ده

د کابل ولایت د نشه یي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې په دوو اونیو کې د ۱۶ /۴ /۱۴۴۶ هـ ق نېټې څخه تر ۳۰ /۴ /۱۴۴۶ هـ ق نېټې پورې (۲۳۴) دوسیو ته رسېدنه کړې ده؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

د نشه یي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې ته په دوو اونیو کې (۱۴۱) دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۴۷) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۴۸) دوسیې فیصله شوې، (۳۹) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

## محاکم هرات طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۴۵۰) دوسیه، به تعداد (۵۷۰) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت هرات، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۶/ ۴/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۳۰/ ۴/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش های حقوقی، تجارتی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۸۹) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۷۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۱) دوسیه فیصله شده، (۱۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۷۸) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۰۴) دوسیه فیصله شده، (۲۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش تجارتی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۸۹) دوسیهٔ تجارتی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۹۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۴) دوسیه فیصله شده، (۳۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت هرات به تعداد (۵۷۰) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم تخار طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۷۲۴) دوسیه، به تعداد (۴۶۲) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت تخار، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۴/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۳۰/ ۴/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه در محاکم تخار به تعداد (۵۱۹) دوسیهٔ حقوقی رسیدگی صورت گرفته است.

از آن جمله در رابطه به (۳۵۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۳۳) دوسیه فیصله شده، (۳۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه در محاکم تخار به تعداد (۲۰۵) دوسیهٔ جزائی رسیدگی صورت گرفته است.

از آن جمله در رابطه به (۶۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۲۶) دوسیه فیصله شده، (۱۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت تخار به تعداد (۴۶۲) وثایق مختلف النوع نیز اجراگردیده است.

## محاکم ولایت غزنی طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۲۷۵) دوسیه، به تعداد (۲۳۳)قطعه وثایق را نیز اجرا نموده است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت غزنی، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری، محکمهٔ نظامی زون غزنی و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۵/ ۴/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۳۰/ ۴/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۰۴) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۹۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۵) دوسیه فیصله شده، (۱۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۹۹) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۵۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۲) دوسیه فیصله شده، (۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت غزنی به تعداد (۲۳۳) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراگردیده‌است.

## د پکتیا ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۴۲۴) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۰۳) وثیقې هم اجراکړې دي

د پکتیا ولایت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې، د پکتیا زون نظامي محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې له (۱/ ۴/ ۱۴۴۶هـ ق څخه تر ۳۰/ ۴/ ۱۴۴۶هـ ق) نېټې پورې (۴۲۴) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۰۳) وثیقې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۲۷۱) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۳۵) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۱۲) دوسیې فیصله شوې، (۳۵) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۱۶۷) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۴۱) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۹۵) دوسیې فیصله شوې، (۶) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د پکتیا ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۲۰۳) بېلا بېلې وثیقې هم اجراکړې دي.

## محاکم ولایت بدخشان طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۶۴۴) دوسیه، به تعداد (۳۴۰) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت بدخشان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۴/ ۱۴۴۶هـ ق الی ۳۰/ ۴/ ۱۴۴۶هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بدخشان به تعداد (۴۵۷) دوسیهٔ حقوقی مورد رسیدگی قرار گرفته است.

از آن جمله در رابطه به (۳۱۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۷۹) دوسیه فیصله شده، (۶۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بدخشان به تعداد (۱۸۷) دوسیهٔ جزائی مورد رسیدگی قرار گرفته است.

از آن جمله در رابطه به (۷۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۷) دوسیه فیصله شده، (۴۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بدخشان به تعداد (۳۴۰) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراگردیده‌است.

## دکابل ولایت اختصاصي محکمې په یوه میاشت کې (۵۷) دوسیو ته رسېدنه کړې ده

د کابل ولایت اختصاصي محکمې په یوه میاشت کې له (۱ /۴ /۱۴۴۶هـ ق څخه تر ۳۰ /۴ /۱۴۴۶هـ ق نېټې) پورې (۵۷) دوسیو ته رسېدنه کړې ده؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

د کابل ولایت اختصاصي محکمې ته په یوه میاشت کې (۸۹) دوسیې واردې شوې په داسې حال کې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۵۱) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۶) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

سرپرست مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
ادیتور: جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## د سترې محکمې نظامي معاون: د اسلامي امارت په حاکمیت سره د دیني او عصري علومو د مراکزو ترمنځ واټن له منځه تللی

د سترې محکمې نظامي معاون محترم شیخ خیرجان (خیرخواه) صاحب د سه شنبې په ورځ (۱۰/ ۵/ ۱۴۴۶هـ ق) نېټه د مرکزي ریاستونو او دیوانونو د رئیسانو، مفتیانو، محررینو او آمرینو لپاره د دعوت او ارشاد ریاست میاشتنۍ غونډه کې وویل چې د اسلامي امارت په حاکمیت سره د دیني او عصري علومو د مراکزو ترمنځ موجود واټن له منځه تللی دی.

په دې سربېره نوموړي وویل، د نړۍ کفارو او د دوی ملګرو په پوره توان هڅه وکړه چې د دیني او عصري زده کړو د مراکزو ترمنځ واټن رامنځته کړي، دوی غوښتل چې د عصري علم لرونکو په نزد علماء کرام وروسته پاتې خلک معرفي کړي، دغه راز د دیني علماوو په نزد عصري زده کړو لرونکي کسان له دین لرې معرفي کړي؛ خو الحمدلله د اسلامي امارت په حاکمیت سره د دیني او عصري علومو د مراکزو ترمنځ واټن له منځه لاړ او نن ورځ دیني علماء او د عصري علم لرونکي کسان په مشترکو ادارو کې سره یو او په ډېر اخلاص ولس ته خدمت کوي.

د سترې محکمې نظامي معاون صاحب زیاته کړه، اسلام یو کامل دین دی، د ټولنیز ژوند هره برخه په کې واضح او روښانه ده، د اسلامي نظام اصول او د دغه نظام د مسؤولینو او منسوبینو مسؤولیتونه په کې څرګند دي.

محترم شیخ خیرجان (خیرخواه) صاحب د اسلامي امارت په اړه وویل، اسلامي امارت په خپلو دوو دورو (تېره دوره او اوسنۍ دوره) کې ثابته کړه چې که مسلمانان په عقیدوي نظریه سره راټول او د کفارو پر وړاندې مبارزه وکړي؛ نو د الله تعالی په نصرت په کمو امکاناتو او وسایلو هم د کفارو پر وړاندې بریالیتوب ته رسېدلای شي .

شیخ صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت د کفارو او هغو کمزورو مسلمانانو نظریه چې ګواکي په دې عصر کې د کامل اسلامي نظام جوړېدل غیر ممکن دي هم غلطه ثابته کړه؛ بلکې عملاً یې وښوده چې اسلامي نظام هر وخت جوړېدلای شي، اسلامي نظام یوازینۍ هغه لار ده چې د بشري ټولنې ټولې ناخوالې له منځه وړي، عدل تأمینوي او حق حقدار ته سپاري.

د سترې محکمې نظامي معاون څرګنده کړه، د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی او عدل بیا د اسلامي نظام د مهم ارکان (قضائیه قوې) په وسیله تأمینېږي، بناءً د قضائیه قوې ټول مسؤولین مکلف دي چې د خپلو اړوند مراجعینو سره د اسلامي شریعت د ارشاداتو مطابق چلند وکړي، غږ یې واوري، ښه اخلاق ورسره وکړي او د اړتیا پر مهال یې په اصولو پوه او رهنمایي کړي.

محترم شیخ خیرجان (خیرخواه) صاحب زیاته کړه، د اسلامي نظام مسؤولین او منسوبین به پر خلکو دا احسان نه کوي چې ګواکي دوی مسؤولین دي؛ بلکې دادې پر ځان د الله تعالی احسان وګڼي چې دوی ته یې د ملت د خدمت فرصت ورکړی او په ورین تندي دې خپلې دندې په ښه ډول ترسره کړي.

د یادونې وړ ده چې په دې غونډه کې د سترې محکمې نظامي مرستیال شیخ خیرجان (خیرخواه) صاحب، د مرکزي تمیز عالي ریاست رئیس محترم شیخ محمد شریف (حقاني) د مرکزي ریاستونو او دیوانونو رئیسانو، مفتیانو، محررینو او آمرینو ګډون درلود.




## په ننګرهار ولایت کې (۱۲) مجرمینو او متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د ننګرهار ولایت د ښاري ابتدائیه محکمې د جزا دیوان، د غني خېلو، سرخرود او ده بالا ولسوالیو ابتدائیه محاکمو د پرېکړو له مخې د روان ۱۴۴۶ هـ ق کال د جمادی الأولی میاشتې په ۴مه، ۹مه او ۱۱مه نېټه د یوې ښځې په ګډون دوولس مجرمینو او متهمینو ته د زنا او لواطت په تور او د نامشروع اړیکو په جرم په عام محضر کې تعزیري سزاګانې ورکړل شوې.

د جزا دیوان او ابتدائیه محاکمو د یادو کسانو له ډلې اووه مجرمین له ۳۰ تر ۳۹ دُرو تعزیري سزا، یوه متهمه پر ۳۹ دُرو تعزیري سزا، درې متهمین پر ۳۹ ـ ۳۹ دُرو تعزیري سزا او یو مجرم په ۳۹ دُرو تعزیري محکوم کړي و؛ چې یادې پرېکړې د سترې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته تطبیق شوې.

د یادو تعزیري سزاګانو د تطبیق په موخه جوړه شوې غونډه کې د ننګرهار د محاکمو مسؤولینو، د یاد ولایت د نورو امارتي ادارو مسؤولینو، قضائي غړو، اداري کارکوونکو، مراجعینو او عامو هېوادوالو ګډون کړی و.

د تعزیري سزاګانو دغه حکمونه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر مجرمینو او متهمینو تطبیق شول.







میزان
د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې
پته: ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست
publications.sc١٤٤٣@gmail.com
www.supremecourt.gov.af
د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳